مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هارون حکیمی ۲۰۲۱/۰۴/۰۴

# د ښاغلي عبدالباري جهاني يوولسم شعري اثر، محشر چاپ سو

محشر چې له نامه څخه يې د پنځونکي د مېني حال انځورېږي د ښاغلي جهاني د وروستيو درو کلونو د شاعري ټولګه ده چې په ۳۵۷ پاڼو او دوه زره ټوکه کې، په ډېر ښه کيفيت چاپ سوېده .
نظمونه، غزلې، لنډۍ په غزل کې (نوی فورم)، آزاد شعرونه، ټوکې په شعرونو کې، شعري ترجمې او ګڼ کيسه ييز نظمونه د محشر منځپانګه جوړوي.
د کتاب په پيليزه کې ښاغلي جهاني د ځان او شعر د تړون په هکله نوي خبرې کړيدي. په دغه اوږده ملتيا کې يې هنريت او د شعر مقام ته د ژمنتيا موضوعات بيان کړيدي او ځوان نسل ته يې د پيغام او محتوا پر اهميت خپلې تجربې شنلې دي؛ په يوه برخه کې کاږي:





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

«په خپل ټول ژوند کي مي خپل شعر له يوې خوا د خپل شخصيت او غرور تابع کړ؛ او په خپل ټول ژوند کي مي يکي يو بيت او حرف د هيڅ واکمن په توصيف کي ونه ليکئ او په ژوند کي مي په يکي يو بيت کي د ګران افغانستان ملي ګټي او ملي وحدت له پامه نه دی غورځولی.»
په پام کي ده چې محشر به د صداقت خپرندويي ټولني او ورسره همکارو بنسټونو لخوا، په هيواد کي دننه او بهر تر درنو لوستونکو ورسپړي.
ما يې په راټولولو، او چاپ چارو کي د لوستلو څخه ډېر خوند واخيست.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ